پوهنمل رحمت زواکمن ۲۰۱۲/۰۷/۰۷

# پراقلیم دانساني فعالیتونو اغیزې

لکه چې پو هېږو اقلیم په اوږده موده کی په یوه سیمه کې د هوا د عمده اجزاوو لکه تودوخې، اورښت، د لمر د وړانګو، باد او نورومنځنی حد دی. همدارنګه په نړۍ کې د اقلیم منځنی اندازه زموږ د سیارې دحالت څرګندویه ده. د ځمکې سیارې له خپله پیدا ښېنته، یعني دځه نا څه پنځو ملیاردو کلونو په موده کې لوی او واړه اقلیمي بدلونونه لیدلي دي. په حقیقت کې ځنې کوچني اقلیمی بدلونونه د ځمکې د اتموسفیر د سیستم نورماله برخه ده.

د اقلیمي بدلونونو علتونه زیات دي او بیلابیل طبیعي او بشري علتونه لري. د لویو وچو خوځښت، بحري جریانونه، اور غورځوني او داسې نور یې طبیعي علتونه دي. د فوسیلي سون توکو سوزول، د ځنګلونو له منځه وړل، کرنه او مالداری یې بشری علتونه دي. په تیرو سلګونو ملیونو کلونو کې د ځمکې دلویو وچو موقعیتونه بدل شوي همدا رنګه دځمکې پرمخ دلمر دوړانګو په اندازه کې هم بدلون راغلی دی. په وروستی یخچالي دوره کې، نیږدې (۱۸۰۰۰) کاله د مخه د نړۍ منځني تودوخه داوس په پرتله تقریباً (٤) درجې ټیټه وه.

(۱۲۰۰۰) کاله دمخه یعني له وروستنی یخچالي دورې وروسته، دنړۍ منځنۍ تودوخه اوسنۍ اندازې، ١٤ یا ١٥ درجو ته ورسیده. د ځمکې پر مخ د نړۍ منځنۍ تودوخه، له ۱۸۶۰ کال را دیخوا له ( ۰،۶ او څه نا څه ۰،۲) درجو تر منځ زیاته شویده. دغه ډول تودیدل په تیرو زرو کلونو کې ندی پیښ شوي. د پام وړ داده چې تېر درې تازه کلونه ( ۱۹۹۵، ۱۹۹۷ او ۱۹۹۸) له ۱۸۶۰ کال راهیسې تر ټولو تاوده کلونه او کېداې شی چې له تېرو زرو کلونو راهیسې تاوده کلونه وی.
د تودوخې ددرجې د زیاتوالی له امله ، د ځمکې پرمخ د واورو او کنګل ساحه لږه شوېده.

په شلمې پیړۍ کې د تودوخې د همدې زیاتوالي له امله د سمندر د اوبو سطحه هم له لسو څخه تر شلو سانتیمترو پورې جګه شویده. د ۱۹۱۰ او ۱۹۴۵ کلونو تر منځ، د نړۍ د تودوخې منځنۍ درجه په هرو لسو کلونو کې ۰،۱۴ درجې لوړه شویده، چې د نورو عواملو تر څنګ په کې اور غورځوونکوزیات رول لوبولې دی. څرنګه چې اوس د بحث موضوع په اقلیمی تغیراتو کې دانساني فعالیتونو اغیزه ده نوپه طبیعي عواملولکه اورغورځوونکو، دسمندرونو اواتموسفیر پرمتقابل عمل او داسې نورو فعالیتونو چې داقلیم په بدلون کې اغیزه لري تیرېږو اوپرانساني علت خبرې کوو.

د میلادي پیړۍ په پیل کې دنړۍ وګړي څه نا څه (۱۰۰) ملیونه اټکل شویدي. په (۱۸۰۰) میلادی کې یوملیارد ته رسیلی و. په (۱۹۰۰) کې دوه ملیاردو اوپه (۲۰۰۰) کې نږدې شپږو ملیادو ته ورسیده.همدارنګه پخوا د ځمکې لږه برخه د استفادې لاندې نیول شوې وه خوپه دې وروستیو پیړیو کې بشر دځمکې ډېره برخه لاندې کړه،چې رنګارنګ عواقب له ځا نه سره لري. یو له دغو عواقبو څخه د ځمکې پر سطحه کې تغیرات دي.

پخوا یوه زیاته برخه ځمکه طبیعی ځنګلونو پوښلې وه او یا شاړه وه، خو په دی وروستیو کې ډېره برخه دکرنې او څارویو دروزنې لپاره وکاریده. همدارنګه استوګنځایونو، ښارجوړونې، لویو لارو اوسړکونو هم دځمکې یوبرخه ونیوه.
دځمکې پر مخ دغو تغیراتو بې له شکه چې پر سیمه ایز اقلیم اغیزه لرله. ددې ترڅنګ دوګړو همدغه زیاتوالی او دصنا یعو پر مختګ د فوسیلی سون موادو څخه داستفادې اندازه هم لوړه کړه.
داتموسفیر حالت له صنعتي انقلاب څخه وروسته بدل شویدی اود شین کوریزو غازونو اندازه پکې لوړه شوېده. شین کوریزو غازونو لکه کاربن، متان،نایتروجن اکساید او اوزون ځمکه په یوه پوښ کې پوښلې ده او په طبیعي توګه د ځمکې پر مخ د تودوخې درجه په نورمال یا معتدل حالت ساتي.پرته له دغو شنوکوریزو غازونو به پر ځمکه د تودوخې منځنۍ درجه منفي ۱۸ ته رسېدلای وی. ځکه نو ګټور هم دي. خو که چیرې دا غازونه زیات شي نو بیا لکه د شنو بنیبنه یې خونو په څیر چې بوټي او ګلان په کې له کنګل څخه ژغورل کیږي، تودوخه را پربږدي او د شپې له خوا یې د بیرته تګ مخ نیسي او په دې توګه د اقلیم د بدلون او پر ځمکه د تودوخې د درجې د لوړیدو سبب ګرځي.
له صنعتي انقلاب راوروسته انسان په ډیره زیاته اندازه فوسیلي مواد لکه نفت ، ګاز او د ډبرو سکاره کاروي. دغه توکي په هوا کې د کاربن دای اکساید د زیاتوالي سبب ګرځي او په اتموسفیر کې دکاربن دای اکساید داندازې


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په څیر و لولئ

زیاتوالی زیاتره د همدې فوسیلو موادو له سوځېدو سره تړاو لري. کاربن دای اکساید له شینکوریزو غازونوڅخه ګټل کېږي او شین کوریزه اغېزې لري. د کاربن دای اکساید $CO_2$ اندازه له 311ppm څخه په ۱۹۵۰ کې تر 368ppm پورې په ۲۰۰۰ کال کې، لوړه شوېده.
په دې اساس دهمدغه انساني کړنو له امله دشلمې پیړۍ په دوهمې نیمایی کې د ځمکې دتودوخې درجه دسانتی ګیراد (1/5) درجې لوړه شوېده. په یویشتمه پیړۍ کې به هم د کاربن دای اکساید تراکم د فوسیلي موادود سون سره اړیکه ولري. هرڅومره چې د کاربن دای اکساید ($CO_2$) اندازه لوړیږي په هماغه اندازه دوچې او سمندر توان هم داضافي کاربن دای اکساید داخیستلو لپاره کمیږي. دیویشتمې پیړۍ په پای کې به دکاربن دای اکساید اوسنی اندازه له (1/5) څخه تر (2/6) ځله پورې لوړه شي چې په دې توګه به دهمدې پیړۍ په پای کې دځمکې د تودو خې منځنۍ درجه هم دسانتي ګراد له (1/4) څخه تر (5/8 ) درجو پورې، پورته شي او د سمندر داوبوسطحه به د(۱۹۹۰) کال په پرتله له 9 سانتی متروڅخه تر ۸۸ سانتی مترو پورې جګه شي.
بشری فعالیتونو په اتموسفیر کې د ایروسولونو اندازه هم لوړه کړېده.
Aerosols ایروسولونه د بېلابېلو کیمیایی ترکیبونو او جسمونو په لړلو سره د غیری ګازی عناصرو ګډ نوم دی.
ددې تر څنګ له طبیعي شتمنیو او زیرمو څخه نا معقوله استفاده ددې سبب کېدای شي، چې د اړوندې سیمې طبیعي سستم ګډ وډشي، له پینو وغورځول شي او بیا ځان ونشي رغولی.همدارنګه په ډېرو حالاتو کې چاپېریال ته ورپېښه ستونزه سیمه بیزه نه پاته کېږي او نړیوالې اغېزې لري. یو له دغو ډېرو خطرونو څخه چې د ژوند چاپېریال ته ورپېښ دي، په پراخه توګه د طبیعي ځنګلونو پرېکول او له منځه وړل دي. څېړونکي په دې اند دي چې د استوایي ځنګلونو پریکول د نړۍ اقلیم اغېزمنولای شي.نوموړي ځنګلونه د نړۍ د سږو په نامه یادېږي او پر ځمکه د اکسیجن لپاره ډېر اړین دي، خو دغه ځنګلونه اوس د سوداګرۍ، د کرنیزو ځمکو د لاس ته راوړلو او د سرکونو د غزولو لپاره په چټکۍ او بې رحمۍ سره له منځه ځي.



د امازون د ځنګلونو حالت

چېرته چي ځنګلونه له منځه ځي هلته بیا اوربښت هم کمېږي، کوم اوربښت چي کېږي هغه هم نور د ونو او بوټو د رګونو په وسیله نه ساتل کېږي او په دې توګه په اوږده موده کې د اقلیم د بدلون سبب کېږي.د خاورې طبقه نازکه او بې حاصله کېږي، باد او اوبه یې په اسانی سره تخریبوي او صحرایي کېدل پراختیا مومي. تخنیکي نوي وسایل داسې د ځنګلونو بیخ وباسي



په افغانستان کې هم طبیعي ځنګلونه د لرګیو د قاچاقو،دسون د توکو په توګه د سوزولو او جګړو له امله له بشپړې له منځه وړنې سره مخ دي. زموږ پر خاوره د لوی خدای دغه لوړولی نعمت او طبیعي شتمنې د دولت او وګړو د نه پاملرنې او ناسمې استفادې له امله په بشپړه توګه له منځه تلونکې ده او د بیا زرغونېدلو او پراختیا مجال نه ورکول کېږي.
دنړیوال غذایی سازمان (دنړۍ دځنګلی سر چینو FAO 2005) د شمېرو پر بنسټ د ځنګلونو اود نورو بوټولرونکو ساحه په افغانستان کې په ۱۹۹۰ کال (۱۳۰۹۰)کیلو متره مربع او په ۲۰۰۰ کال کې ۱۰۱۵۰ کیلومتره مربع وه چې په ۲۰۰۵ کال کې ۸۶۷۰ کیلو متره مربع ته راټیټه شوی ده. دملګرو ملتونو د چاپیر یال ساتنې د سازمان ( UNEP ) تازه ریوټ څرګندوی چې د افغانستان په ختیځ کې (چې د هیواد د نباتی پو ښښ ډیره برخه په بر کی نیسی ) د۱۹۷۷ او ۲۰۰۲ کلونو تر منځ په سلو کی له پنځوسو تر اتیاوو پورې ځنګلونه وهل شوی دی. په ۱۹۷۹ کال کی هره ورځ دوه سو ه لاری موټرو په سرکونوکی تګ کاوه او تازه غوڅې شوی ونی یی لیګدلوی. ددی لرګیو زیاتره برخه پاکستان ته وړل کیده . په همدی کال د هیواد ۶فیصده مساحت ځنګلونو پوښلې وو، خونن ورځ یواځې له یو نه تر دوو فیصدو پورې په بر کی نیسی .



د بوټو او ونو همدغه پراخه غوځونې اکوسیستم له سترو ننګونوسره مخ کړی دی .
یواځې په ختیځو ولایتونو کی پراخه ځنګلی پوښښ کولای شی د سیمې اقلیم تر اغیزې لاند ې راولی او د سختی وچکالی د پیښدلو مخه ونیسی. خو د لرګیو قاچاقو او په زیاته اندازه د لرګیو سوځولو په افغانسان کی د هوا کیفیت یا څرنګوالی د تهدید سره مخ کړی دی.

پر ځنګل پوښلي غر سپور او لغړ شوی دی
د پورتنیو ځرګندونو په پام کې نیولو سره ویلای شو چې انسان د اقلیم په بدلون کې یو مهم عامل دی. اقلیم د فوسیلي سون توکو د سوځېدو، د ځنګلونو د پرېکولو، کرنې او مالدارۍ له امله ډېر اغېزمن شوېدی.
د اقلیم د بدلون ناوړه پایلې د سمندر د اوبو د سطحې لوړوالې، په ځنو سیمو کې د اورښت زیاتوالې او په ځنو کې کمښت، د ایکوسستم زیانمنېدل او وچکالی ده. همدارنګه د تودوخې سوزوونکې ځپې یې مړینه او روغتیایي ستونزې هم رامنځ ته کولای شي..
په پایله کې ویلې شوچې اقلیمي بدلون بېلابېل طبیعي اوبشري علتونه لري. دځمکې پرمخ دوګړو زیاتوالی اوصنعتي انقلاب په دغه بدلون کې دانسان اغېزه زیاته کړیده. له فوسیلي توکوڅخه زیاتې ګټې اخیستنې په هوا کې دکاربن دای اکساید اندازه لوړه کړېده چې دتودوخې د درجې په لوړوالي کې اغیزه لري. همدارنګه په پراخه اندازه دطبیعی ځنګلونو پرېکولو دسیمیزاقلیم بدلون ته لاره پرانیستې ده.
دنوموړوناوړه پایلو ومخنیوي لپاره وړاندیزکېږي چې ستر صنعتي هېوادونه دملګرو ملتونو دسازمان داقلیم دتړون(UNFCCC) چې په 1992 کې دبرازیل د(Rio) ریوپه ښارکې لاسلیک شواوبیا یې په (1997)کې دکیوتودپروتوکول بڼه غوره کړه، پرکړې ومنې اود نورو هغو ډلوله هڅوسره چې داقلیم دبدلون دمخنیوی لپاره یې کوي ځانونه هم غړي کړي. دفوسیلي سون توکوپرځای دانرژی له نورو ډولونو کار واخلي دهوا دلا زیاتې ککړتیا او دطبیعی ځنګلونو دلازیات تخریب مخه ونیسی، دیوسالم چاپېریال پاکې هوا او دایمي پرمختیا لپاره کاروکړي.

پای

۱۳۹۱ لمریز کال د غویي میاشت (د علومو اکاډمي په سیمینار کې لوستل شوی)

پوهنمل دکتوراندوس رحمت ځواکمن
(کابل پوهنتون، ځمکپوهنی پوهنځی، چاپېریال ساتنې دیپارتمنت)


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولئ